# بسم الله الرحمن الرحیم

# د کرونا پر ضد د چینایانو مبارزې پانګوال خواشیني کړي دي

## خبر

بي بي سي راپور خپور کړی چې چینایانو تیاری نیولی، ترڅو په ووهان ښار کې د کرونا په ویروس اخته کسانو د درملنې لپاره یو روغتون جوړ کړي. د دوی په وینا، چې دغه روغتون به په شپږو ورځو کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دغه وبا د لومړي ځل لپاره د ووهان په ایالت کې را پیدا شوه او دغه ایالت شاوخوا ۱۱میلیونه اوسېدونکي لري. د یاد ښار روغتونونه په دغې ناروغۍ له اخته شوو کسانو څخه ډک دي، په داسې حال کې چې درملتونونه یې له درملو څخه خالي کېږي.

د دغه هېواد د مطبوعاتو په خبره یاد روغتون به ۱۰۰۰ بسترونه ولري. چینایي مطبوعات په ژوندۍ بڼه ښیي، چې ځمکه کیندونکو وسایلو په ۲۵۰۰۰متر مربع ځمکه کې کار پیل کړی دی. په بیجنګ کې هم په ۲۰۰۳م کال په سارس ویروس د اخته کسانو د درملنې لپاره همداسې یو روغتون جوړ شوی و.

په بهرنیو اړیکو کې د نړیوالې روغتیا لوړپوړي کارکوونکي «یانژونګ هانګ» وویل: «چین په نړیواله کچه په دا ډول لویو پروژو کې ریکارډ لري، چې په کم وخت کې یې ګټې اخیستنې ته سپارلی دي.»

نوموړي په بیجینګ کې هغه روغتون ته اشاره وکړه، چې په ۲۰۰۳م کال کې د ۷ ورځو  په اوږدو کې جوړ شوی و. همدارنګه هغه زیاته کړه چې د اوسنۍ پروژې کاري ټیم د پخواني ریکارډ ماتولو هڅه وي. د ووهان ښار مرکز کې د بیجنګ د روغتون په څېر نور ساختمانونه هم جوړ شوي دي.

هغه زیاته کړه: «دغه ځان غوښتونکی هېواد هر ډول وسایلو ته لاسرسی لري. دوی په لوړو اداري او مالي ستونزو برلاسي کېدلی شي او په دغې برخه کې له ټولو سرچینو څخه ګټه اخیستلی شي. چین په انجنیرۍ برخه کې ډېر پرمختګ کړی او دوی په کم وخت کې د لوړو بلډینګونو په جوړولو کې ریکارډ لري. دا د غربیانو لپاره ډېره سخته ده، چې حتا د دا ډول کارونو تصور وکړي.»

### تبصره

په رښتیا هم چې د پانګوالو هېوادونو د اوسېدونکو لپاره دا حیرانوونکې خبره ده، چې یوه لویه ساختماني یا پرمختیایي پروژه د یو کال پر ځای په یوه اونۍ ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. کله خلک د پانګوالۍ د ګټو سیالۍ او پرمختګونه ویني، نو ډېر کار کوي، خو په خپل بشري فکر سره د عامه موخو د لاسته راوړلو لپاره یو ځای کار نه شي کولی.

بریتانیا د روغتیا د ملي خدمتونو په برخه کې د نړۍ د هیلو خلاف یوازې په زړو او ناکاره روغتونونو بسنه کړې او خلک هم له دولت څخه دا هیله نه لري، چې دوی ته دې پوره پاملرنه وکړي. دولت به هیڅکله دا وړتیا پیدا نه کړي، چې په ټولو ځایونو کې د زړو روغتیایي تاسیساتو پرځای نوي روغتونونه جوړ کړي. همدا اوس یې هیواد په شمالي سیمو کې د لوړ سرعت ریل ګاډي په جوړولو کې له ستونزو او ګډوډیو سره لاس او ګریوان دی، چې یاده پروژه ښایي په دوه نورو لسیزو کې هم ګټې اخیستنې ته ونه سپارل شي.

بریتانیا په نړۍ کې پنځم لوی اقتصادي هیواد دی او تر اوسه په دا ډول پرمختیایي پروژو کې هیڅکله هم له مالي ستونزو سره نه دی مخ شوی. یو شی چې په غرب کې معمول دي، هغه دا که چیرې له دغې پروژې څخه سیاسي ګټه پورته کیدلی، نو بیا به پانګوالو په خپلو بې ځایه سیالیو کې د هر ډول فساد پر وړاندې تر وروستۍ کچې خپلې پیسې لګولې؛ مانا دا چې یادې پروژې ځکه ګټې اخیستنې ته نه سپارل کیږي، چې لګښت یې ډیر دی او هم تر ډیره د دوی د شخصي ګټو لامل نه کیږي. په پانګواله ټولنه کې د ودانولو یا رغولو تاریخ همدا ډول دی، چې هر کس هڅه کوي بیل بیل یې وخوري او حتا ځینې لوی پانګوال پرې سیالي کوي.

د بي بي سي خپرونې به هیڅ کله هم دا ډول کینې او حسادتونه پټ نه کړي؛ دوی هڅه کوي چې یاده مسله داسې څرګنده کړي چې د دا ډول پروژو د جوړولو لپاره د امکاناتو برابرول د چین د ځان غوښتونکي حکومت طبیعت دی. جیورج سوروس بیا په روانه اونۍ کې په داووس کې د خپلو خبرو پر مهال چین او امریکا دواړه هیوادونه په ځان غوښتونکو حکومتونو تورن کړل.

مسلمانان باید د خپلو سیالانو او د هغوی په وینا د خپلو نیمګړتیاوو تر اغیز لاندې را نه شي. د پانګوالو ډیره کوچنۍ ستونزه هم د دوی سیستم افشا کولی شي، هغه سیستم چې تکیه یې پرې کړې او د بشر لپاره د ګټې اخیستنې وړ نه دی. په هر ځای کې چې سیاسي موخې تر لاسه کیږي، هلته بیا کینه کښ پانګوال په چټکۍ سره د عامه موخو لپاره کار کوي او لوی اقتصادي پرمختګ د کلونو او لسیزو پر ځای په یوه اونۍ یا میاشت کې تر سره کوي.

راتلونکی خلافت به د چین له دغه پرمختګ سره سیالي وکړي او حتا په ځینې برخو کې به ورڅخه مخکې شي، ځکه چې خلیفه نه د پانګوالي شرکتونو او نه هم د یوې ځانګړې ډلې خدمتګار دی، بلکې د خلکو اصلي خدمتګار دی. د اسلامي خلافت تر واک لاندې هیوادونه به د دیني سیستم تر حاکمیت لاندې وي. د خلکو مشر به په ډیر ښکاره او شفاف ډول تاکل کیږي او د خپلو ټولو کړنو حساب به خلکو ته په مستقیم ډول ورکوي. دغه ځواب ورکول به د یوې متحرکې ټولنې او سیاسي ډلو د رامنځته کیدولو سبب شي. د پیاوړو انستیتیوتونو په ګډون د ازادۍ محکمې شتون دا ښیي، چې د ټولو خلکو ارزښتونه به په ښه ډول په پام کې نیول کیږي؛ داسې نه چې یوازې به د شتمنو لپاره کار کوي، لکه نن ورځ چې په شرقي او غربي پانګوالو کې لیدل کیږي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## لیکوال: د بریتانیا-حزب التحریر مطبوعاتي ویاند یحیی نسبت